عبدالرحمن فرقاني ۲۰۰۹/۰۹/۲۶م

# روسيه بايد د افغانستان په جگړه کي شريکه شي

دا مطلب د واشنگټن ټايمز په يوه نوي خپره شوی ليکنه کي څېړل شوي دي , چی په افغانستان کي د ناتو او امرکايي ځواکونوپه نظامي خوزښت کي دمقاومت په وړاندي بايد روسيی ځواك هم شريك شي ترڅونړيواله ټولنه د سختدريځو ډلو په ځپلو کي خپله موخه په چټکتا سره ترلاسه کړي شي .

داسي ښكاري چي د اوسنيو يرغلگرو ځواكنومسير هم په افغانستان کي هغو پخوانيو يرغلگرو ځواکونوته ورته مسير دي چي د تاريخ په اوږدو کي افغانستان ورته د يرغلگرو په مقبره ستايل شوی او( افغانستان دوهم ويتنام ) هم بلل شوی , دا خو ټولي نړي ته څرگنده ده چي لوديځ د خپلو چگړيزو کومکونو په پايله کي چی د افغانستان له مجاهدينو سره يي وکړل وتوانيد چي افغانستان د روسانو مقبره وگرځوي او روسان په افغانستان کي د يوی څرگندی ماتی سره مخ کړي , اوروسانو له ديرو تلفاتو څخه وروسته افغانستان په ظاهري شكل لوديځ ته پريښود , خو له وتلو وړاندي يي د لوديځ څخه د خپلی څرگندی ماتی غچ اخيستل په سر کي ؤو , نو په افغانستان کي يی خپل لاسپوڅي وروزل , همداراز يی په نړيواله کچه د لوديځ د نظامي خوزښت په وړاندي دير موثره اوفعاله سياسي ټگلاره خپله کړله , چی په پايله کي يی لوديځ له كړاونو سره مخ شواو لوديځ دي ته اړ شو تر څو د روسان دير سياسي مصلحتونه د نړي په کچه چي له پامه غوځول شوي ؤ په پام کي ونيسي .

اوس دا چی لوديځ په افغانستان کي له روسانو څخه کمك غواړي تر څو د افغانستان په سياسي کشاله کي چي دوي ورسره لاس گريوان دي رول ولبوي د يو شميرسياستپوهانو په اند لوديځ غواړي له هغه دښمنی تگلاری څخه د روسيی په هکله لاس واخلي کوم چی مخکي لدي ورسره چلند کاوه او ورسره د يو پياوړي استراتيژيك شريك په توگه تعامل وکړي لوديځ په دي قناعت شوی چی دمسکو سره يوه استراتيژيکه مواجه او مقابله او يا په بل عبارت دمسکو سره جگړيز سياست هرو مرو ددي باعث گرځي تر څودغرب اجنډا په افغانستان کي د شنډيدو سرة مخ کړي نو ځکه بايد په غور سره وڅيړل شی چي له روسانو سره څه راز چلند او تگلاره موثره او گټوره ده , که چيری موخه دا وی چی له روسانو سره د يوه پياوړی شريك په توگه چلند وشي نوبيا غرب بايد د روسانو هغه غوښتنی څي د ناتو د پيمان په هکله شوی وی له سره وڅيړي لکه چي روسان غوښتنه کوي , روسيه د اورپا د امنيتي سيستم د نويدو غوښتنه کوي چی مراد هم د ناتو پيمان دي , لوديځ (اوروپا )لا تر اوسه د روسيه منل په ناتو کي ځنډوي خو کيدي شي چی اوس لوديځ پدي هکله د روسيه په غوښتنوغورکړي وی, اودا هغه اساسي هدف دي چي روسيی غواړي د اوروپا په کچه يیترلاسه کړي .

بعضي کتونکي پدي اند دي چي لوديځ په افغانستان کي خپله د جگړی پايله دروسانو سره شريك ول غواړي ځکه چی دوي پدي اند شوي دي چي په افغانستان کي خپله جگړيزه موخه نشي تر لاسه کولي نو غواړي يو ځل بيا روسان د افغانستان د جگړی ډگر ته راکاږي , تر څو وکولي شي لږ تر لږه هغه خنډونه چي روسيی دوي ته را برسيره کړي دي له منځه يوسي , خو لوديځ بايد هغه د وحشت او بربريت څخه ډکه دوره چي د افغانستان په سياسي اوجغرافيايی چابيريال کي روسانو تيره کړي هيره نکړي , په افغانستان کي داسي کور نشته چي د روسي وحشت او خونړی تگلاری نوي زيانمن کړي , هغه په وينو رسم شوي انځورد افغانانو په ذهن کي شته دي او په دومره ساده توگه هغه دبربادی دوره نشي هيرولي , دا سمه ده چي په نړيواله کچه روسان او دهغه لاسپوڅي د افغان ملت په وړاندي ونه درول شول تر څو د افغانستان د بربادی حساب ورکړي , خو دا روښانه ده چي په افغانستان مينو افغانانو له روسانو سره مينه نده پيدا شوي چي د دوي دوباره راتگ به د نورو يرغلگرو په څير د افغانانوله سخت غبرگون سره مخ نشي , بلكه د يرغلگرو په وړاندی پاڅون به نور هم پياوړي کړي ځکه چي روسانوپه خپلواکی مين افغانانود سپيڅليو احساستو د وژلو کوښښ کړي دي , او د افغانانو غبرگون ورته په گوته شوي دي نو فکر نه کيږي چي روسان بيا افغانستان ته د راتللو جرات وکړي.
دير کتونکي پدي اند دي چي لوديځ بايد د افغانستان په هکله د اوباما نوي استراتيژي چي د دولت له مخالفينو سره په خبرو ټينگار کوي پلي کړي او له جگړيزو تگلارو څخه لاس په سر شي , اود افغانستان سياسي سرنوشت په خپله افغانانو ته وسپاري , تر څو په افغانستان کي د يرغلگرو له مقبری څخه ځان وژغوري .

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ